افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| هنر و موسیقی | Arts & Music |
| --- | --- |

د پیشرو خپرونه، ۴۲ گڼه

۱۶ مارچ ۲۰۱۲

# موږ باید خپل دولت جوړ کړو!

هر چیرې چې ستم وي، هلته اعتراض وي. اعتراض بیلابیل ډولونه لري، خو موسیقي هغه هنر دی چې کولای شي له پراخو اعتراضي غورځنگونه سره تر بریا پورې ملتیا وکړي او د ولسونو په راپارولو سره د زبیناک او استعمار په وړاندې مبارزه لا گړندی کړي. رپ موسیقي چې د امریکا د تورپوټکو له کوڅو او واټونو سر راپورته کړی، د موسیقی هغه ډول دی چې منځپانگه یې د نورو پرتله زیاته د ستم، تیري، زورواکی، تبعیض، اشغال او جگړې په وړاندې متمرکز ده.

وروسته له هغه چې د ۱۹۶۰ لسیزې په وروستیو کې امریکایي نیواک گرو پر ویتنام برید وکړ او دې وحشیانه اشغال او نیواک په نړیواله کچه د امریکایي امپریالیزم په وړاندې کرکه لا زیاته کړه، دننه په امریکا کې هم طبقاتي تضادونه لا زیات شول او تورپوټکو عملاً د امریکا د امپریالیستي پانگوالی په وړاندې د اعتراض لاره ونیوله او ورسره جوخت د رپ موسیقی هم په بې ساري توگه د هارلم او نیویارک په کوڅو کې د اعتراض هنگامي پورته کړې.

۱۹۷۹ کال د رپ موسیقی د برید د ماتیدنې کال و. نوره دا موسیقي یوازې د هارلم او نیویارك په کوڅو کې نه غریدله، بلکې له امریکا ووتله او نورو هیوادونو ته یې آواز ورسید. په همدې کال کې رپ موسیقي بازار ته هم لار ومونده. پانگوالو چې د دې موسیقي خطر د ویکتور خارا په وینا له یوه وسلې وال چریك سره پرتله کاوه او د هغه ضرب او د کلیمو تون یې د بمونو چاودنه گڼله، هڅه پیل کړه چې دا موسیقي په بازاري هوسونو ککړه او پاخونکی خصلت یې ووژني.

په ۱۹۷۹ کال کې داسې یوه سوداگریزه رپ ترانه ولوستل شوه چې په کې د ښادی او جشن نیولو خبرې کیدې او په دې یې ټینگار کاوه چې د نورو خلکو له دردونو باید تیر شو او خپله خوشالي ولمانځو؛ «برادر دې» د دې ترانې په غبرگون کې د «څنگه تور ملت راپاڅوو؟» ترانه وویله:

ستا جشن کیدای شي ډیر ژر پای ومومي

کله چې هغوی یوه ورځ له غرمې وروسته،

د هغوي په وینا، د «تور کوځه ډبي» په کتار کې ودروي
او په داسي حال کې چي ته شپه سهاروې
دا هیواد لا د ښي لاسو په منګولو کې ښکیل کیږي
نو له اوسه ځان چمتو کړه
او یا د تیښتي لار ونیسه
ځکه چي په پولیسي دولت کې، هیڅ جشن مشن نشته
د«ګرنډ مسټر فلش» او د «فوریس فایف» ډلي ترانه چي «پیام» نومیږي، هغه ترانه ده چي نړیوال شهرت یې موندلی دی. په دې ترانه کې د بیوزلو ولسونو او زیارکښانو ژوند انځور شوی دی. دا په کې انځور شوي چي څنګه له پانګوالي سیستم څخه پوزې ته رسیدلي خلک ورو ورو لاس وسلي ته وړي:
وسله په لاس کې ټینګه نیسم
ځکه چي زما د وژلو تکل یې کړی
ما ته دیکه مه راکوه، حوصله مي پای ته رسیدلي
کوښښ کوم وروستی سیم ونه وهم
دا ځای د یو ځنګل په شان دی
او ځیني وختونه تعجب کوم
چي څرنګه کولای شو ځان روغ رمټ وباسو.
«برادر دي» هغه رپ سندرغاړی دی چي د استعمار ضد ترانې یې ویلي او په دې باور و چي ولسونه یوازې هغه وخت کولای شي خلاصون ته ورسیږي او له وژني خلاص شي، چي خپل دولت جوړ کړي او ښکیلاکګر له واکمنی څخه راکوز کړي:
د ننني نړۍ ډیری ستونزې،
خصوصاً هغه ستونزې چي زموږ ولس ورسره مخامخ دی
د ښکیلاك د تضاد ښکارندوی دي
اصلي مسئله، د واکمنی مسئله ده
زموږ موخه باید واکمني وي
توکم پالنه زموږ د اوسنی ناتوانی پایله ده
په دې وضعیت کې طبیعي توپیرونه په زبیښاك کې رول لوبوي
د برابری تر لاسه کولو لپاره د جګړې خبره اکثراً مطرح کیږي
خو له ځان څخه وپوښته،
اصلاً دوی څه ارزښت لري چي وغواړو ورسره برابر ووسو؟
کوښښ وکړه چي بهرنی کنترول له منځه یوسئ
موږ باید خپل دولت جوړ کړو
دا نوی نړیوال نظم ویني چي لکه ګل په غندلي را زرغورنیږي
د نړۍ د ټولو خلکو له مبارزو راپورته کیږي،
څو هغه څه چي په حقه خلکو پورې تړاو لري، رامنځته کړي

اصلي مسئله واکمني ده،
هر څه چې زغمو، لامل يې د واکمنۍ نه لرل دي
بې له واکمنۍ، وژل کيږو
زموږ موخه بايد واکمني وي.